اې خلکو، یقینا چې الله جل جلاله ستاسو څخه د جاهلیت غرور او په پلرونو ویاړ لرې کړی دی

له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته خطبه ورکړه نو ویې ویل: « اې خلکو، یقینا چې الله جل جلاله ستاسو څخه د جاهلیت غرور او په پلرونو ویاړ لرې کړی دی ، خلک دوه ډوله دي، نیک، پرهیزګاه او د الله تعالی په وړاندې عزتمن، او بې لارې بدبخته، او د خلکو په وړاندې سپک، او خلک د آدم اولاده دي، او الله تعالی آدم له خاورې پیدا کړی دی، الله تعالی فرمایلي: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ} [الحجرات: 13] .اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پیدا کړي یئ او مونږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي یئ، د دې لپاره چې تاسو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نیز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی».

[صحيح دی] [الترمذي او ابن حبان روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکې د فتحې په ورځ خلکو ته په خطاب کې وفرمایل: اې خلکو، الله تعالی ستاسو څخه د جاهلیت کبر، ویاړ، ننګ او په پلرونو ویاړ پورته او لرې کړ او یقینا چې خلک دوه ډوله دي: یا خو مؤمن، صالح، پرهېزګار، فرمانبردار او د الله سبحانه وتعالی عبادت کوونکی وي، نو دا سړی د الله تعالی په وړاندې عزتمن دی، که څه هم د خلکو په اند د اصل او نسب خاوند څخه وي. او یا کافر، بې لارې او بدبخته چې دا د الله تعالی په وړاندې سپک دی، او هېڅ ارزښت نه لري، که څه هم د اصل له اړخه د غوره مرتبې، وقار او واک خاوند وي. او خلک ټول د آدم اولادونه دي، او الله تعالی آدم له خاورې څخه پیدا کړی دی، نو هغه څوک چې اصل یې له خاورې څخه وي ورته نه ښایي چې کبر وکړي او ځانته مغروره شي، د الله تعالی دا وینا د دې خبرې تصدیق کوي چې فرمایي: {يا أيها الناس إنا خلقناكم من ذكر وأنثى وجعلناكم شعوبا وقبائل لتعارفوا إن أكرمكم عند الله أتقاكم إن الله عليم خبير} [الحجرات: 13].اې خلکو! بېشکه مونږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پیدا کړي یئ او مونږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي یئ، د دې لپاره چې تاسو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نیز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65074